معلومات پاڼه

# د COVID-19 (د کرونا ویروس ناروغی 2019) پرواندې محافظتي واکسینونو لپاره

## - د ویکتور (vector) واکسین سره - (Vaxzevria® چې مخکې د COVID-19 لپاره د AstraZeneca واکسین او د Johnson & Johnson د Janssen® واکسین په نامه پیژندل کیده)

نیټه: د 2021 اپریل 1 پورې (دا معلومات پاڼه په دوامداره ډول تازه کیږي)

د واکسین کیدونکي شخص نوم:
(مهرباني وکړئ په غټو تورو یې ولیکئ)

د زیږون نیټه:

### COVID-19 څه شی دی؟

د کرونا ویرسونه د لسیزو راهیسې پیژندل شوي دي. د کرونا نوی ویروس SARS-Coronavirus-2 (SARS-CoV-2) د COVID-19 ناروغی (د 2019 کال د کرونا ویروس ناروغي) رامینځته کونکی عامل (پاتوژین) دی، د 2020/2019 کال وروستیو راهیسې په ټوله نړۍ کې د خپریدو په حال کې دی.

د COVID-19 ښکاره علایمو کې وچ ټوخی، تبه، ساه لنډی او همدارنګه په لنډ مهاله توګه د بوی او خوند حس له لاسه ورکول شامل دي. د ناروغی د عمومي احساس سره د سردرد او د بدن درد، د ستوني درد او د پزې بهیدل هم رپوټ شوي دي. په ځینې مواردو کې ناروغان د معدې او کولمو درد، د بندونو پرسوب او د لنفاوي غدو پرسوب شکایت هم کوي. ورپسې د عصبي سیستم یا د زړه عروقي او همدارنګه د اوږدمهاله ناروغیو امکان شتون لري. که څه هم د ناروغی خفیف علامې عام دي او ډیری ناروغان په بشپړ ډول ښه کیږي، مګر جدي ناروغي، د بیلګې په توګه د نمونیا سره، هم رامینځته کیدې شي او ممکن د مرګ لامل شي.

د AHA + A + L مقرراتو (د واټن ساتل، د نظافت په پام کې نیول، هره ورځ د ماسک اغوستل، د کرونا د خبرداري برنامې ډاونلوډ، منظم د خونو تهویه) په پام کې نیولو سره د عفونیت نه د مخنیوي سربیره، واکسین د دې ناروغی پرواندې ترټولو غوره ممکن محافظت لري.

### کوم ډول واکسین کارول کیږي؟

د COVID-19 په وړاندې ګڼ شمیر واکسینونه تایید شوي چې د COVID-19 په وړاندې د انفرادي خوندیتوب لپاره او د وبا په وړاندې غبرګون په توګه برابر مناسب دی. د COVID-19 ویکتور واکسینونه چې دلته بحث شوي (Vaxzevria® چې مخکې د COVID-19 لپاره د AstraZeneca واکسین او د Johnson & Johnson د Janssen® واکسین په نامه پیژندل کیده) د جین پراساس جوړ شوي واکسینونه دي، چې تولید یې د پرمختللي ټیکنالوژۍ پراساس ترسره کیږي. د نورو ناروغیو پرواندې د ویکتور واکسین لا دمخه تایید شوي.

واکسینونه د ویکتور په نوم ویروسونه لري. یاده ویکتور ویروس یو ښه څیړل شوی ویروس دی چې نشي کولی تکثیر وکړي. دوی ژوندي واکسین ندي. ویکتور ویروس د کورونا ویروس د یوازیني پروتین، چې د سپایک پروتین په نامه پیژندل کیږي، لپاره د جین معلومات لري او دغه معلومات انتقالوي. د COVID-19 ویکتور واکسینونه تکثیر کونکي واکسین ویروس نلري، چې دا معنی لري چې واکسین شوي افراد نشي کولی نورو خلکو ته د واکسین ویروس لیږدوي.

د ویکتور ویروس لخوا لیږد شوي معلومات د واکسین کولو وروسته د انسان جینوم کې نه مدغم کیږي، مګر په حجرو کې د دخول وروسته "لوستل" کیږي (په لومړي سر کې د واکسین کولو سایټ او په ځینې مدافع حجرو کې) په داسې حال کې چې دا ډول حجرې بیا پخپله د سپیک پروټین تولید کوي. د سپایک پروتین پخپله نشي کولی د SARS-CoV-2 انتان لامل شي. د سپیک پروتینونه پدې توګه د واکسین شوي شخص د بدن لخوا رامینځته شوي د معافیت سیستم لخوا د بهرني پروتینونو په توګه پیژندل شوي؛ د پایلې په توګه، انټي باډیز او د معافیت حجرې د ویروس سپیک پروتین پرواندې تولیدیږي. دا د معافیت غبرګون رامینځته کوي.

د ویکتور ویروس نشي کولی د انسان په بدن کې تولید وکړي او د لږ وخت وروسته تجزیه شي. له دې وروسته، د اضافي ویروس پروتین (سپیک پروتین) نه تولیدیږي.

**واکسین څنګه ترسره کیږي؟**

دا واکسین د پورتنی مټ عضلاتو کې تزریق کیږي. واکسین باید دوه ځله ورکړل شي. د AstraZeneca Vaxzevria® د کافي محافظت لپاره، د رابرټ کوچ انستیتیوټ (STIKO) کې د معافیت په اړه جوړه شوې کمیټه د لومړي او دوهم واکسینونو تر مینځ د 9 څخه تر 12 اونیو پورې وخت وړاندیز کوي. په دې وخت کې، د دوهم واکسین لپاره، د ورته تولید کونکي ورته واکسین باید د لومړي واکسین په شان وکارول شي. هغه کسان له دې څخه معاف دي کوم چې د 60 کلونو څخه لږ عمر لري او د کومو لپاره چې د AstraZeneca Vaxzevria® د لومړي واکسین لپاره کارول شوی و. د داسې اشخاصو لپاره، STIKO اوس مهال وړاندیز کوي چې دوېم واکسین د mRNA واکسین (د BioNTech/Pfizer Comirnaty® او د Moderna® COVID-19 واکیسن) سره د لومړي واکسین څخه 12 اونۍ وروسته ترسره شي.

د COVID-19 لپاره او د Johnson & Johnson Janssen® واکسین باید یوازې یو ځل ورکړل شي.

**واکسین څومره اغیزناک دي؟**

د پوهې اوسنی کچې پراساس، دواړه COVID-19 ویکتور واکسینونه ښه اغیزمنتوب وړاندې کوي: د AstraZeneca Vaxzevria® د ټول عمر په ډلو کې تر 80٪ پورې اغیزمنتوب ښودلی کله چې د STIKO لخوا وړاندیز شوی د دواړو واکسینونو ترمینځ د 12 اونیو وقفه ترسره شوه، او د COVID-19 لپاره د Johnson & Johnson واکسینو نږدې 65٪ اغیزمنتوب وښود. دا په دې معنی ده چې په COVID-19 باندې د اخته کیدو احتمال ( په هغو کسانو کې چې د COVID-19 پروړاندې واکسین شوي وو) د هغو کسانو په پرتله تر 80٪ (د AstraZeneca Vaxzevria®) یا نژدې 65٪ (د Johnson & Johnson Janssen® ) پورې ټیټ و کوم چې نه وو واکسین شوي. د جدي COVID-19 ناروغۍ د مخنیوي لپاره اغیزمنتیا (د بیلګې په توګه په روغتون کې درملنه) تر یوې کچې خورا لوړه وه: د AstraZeneca Vaxzevria® سره نږدې 95٪ او د Johnson & Johnson Janssen® سره 100٪. په دې توګه، که چیرې هغه کس چې د COVID-19 د دې واکسین سره واکسین شي او د ناروغه کس سره اړیکه ونیسي، نو د پام وړ احتمال شتون لري چې دغه کس به ناروغه نشي. دا مهال معلومه نده چې د واکسین خوندیتوب به څومره دوام ولري.

حتی که تاسو واکسین کړی وي، نو دا اړینه ده چې تاسو د AHA + A + L قواعد تعقیب کړئ او پدې توګه خپل ځان او شاوخوا چاپیریال خوندي وساتئ. د دې لپاره دلیلونه دا دي چې خوندیتوب د واکسین څخه سمدلاسه وروسته نه پیل کیږي او په ټولو خلکو کې چې واکسین شوي وو مساوي شتون نلري. سربیره پردې، دا مهال دا ممکنه نده چې په ډاډ سره ووایو چې ایا افراد کولی شي د واکسین کیدو سره ویروس (SARS-CoV-2) خپور کړي.

**څوک د COVID-19 پروړاندې په ځانګړي توګه د واکسین نه ګټه اخلي؟**

د COVID-19 پروړاندې څو واکسینونه تصویب شوي او د COVID-19 پروړاندې د انفرادي خوندیتوب او د ناروغۍ پروړاندې د غبرګون لپاره په مساوي توګه مناسب دي. تر څو چې د ټولو خلکو لپاره کافي مقدار واکسین شتون نلري، د هغه افرادو واکسین کول باید لومړیتوب ولري چې د COVID-19 له امله د خورا ډیر یا وژونکي ناروغۍ خطر سره مخ یي یا هغه خلک چې د خپلې دندې له امله SARS-CoV-2 باندې اخته کیدو ځانګړي خطر سره مخ یي یا د خپلې دندې له امله د COVID-19 ګواښ سره مخ افرادو سره په اړیکه کې یي باید واکسین شي.

**څوک باید واکسین نشي؟**

څرنګه چې د COVID-19 د ویکتور واکسین د هغو ماشومانو او لویانو لپاره ندی تصویب شوی چې د 17 کلونو پورې عمر لري، نو دوی باید د COVID-19 د ویکتور واکسین سره واکسین نشي. STIKO د AstraZeneca Vaxzevria® یوازې د هغو کسانو لپاره وړاندیز کوي کوم چې 60 کاله یا زیات عمر لري. د هغو لویانو لپاره چې د دې عمر حد څخه ټیټ عمر لري، STIKO اوس مهال د دې واکسین سره د واکسین کولو وړاندیز نه کوي، ځکه چې جدي ناروغۍ په ځینو نادره پیښو کې رامینځته شوې، په ځانګړي ډول په هغو کسانو کې چې د 60 کلونو څخه کم عمر لري. په ورته ناروغیو کې د وینې ټوټې کیدل (thromboses) او د وینې د پلیټلیټ په شمیر کې کمې (thrombocytopenia) شامل دي او ځینې وختونه د دې سره د وینې تویدل هم مل وي. په دې اشخاصو کې ځینې مړه شوي دي..

د هغو اشخاصو لپاره چې عمر یې 60 کاله یا ډیر وي، د COVID-19 سره د جدي ناروغ کیدو خطر یا د COVID-19 څخه د مړ کیدو خطر د ځوانو اشخاصو لپاره خورا ډیر دی. سربیره پردې، پورته ذکر شوې پیچلتیاوې په عمده ډول په هغو اشخاصو کې

رامینځته شوي چې له 60 کلونو څخه کم عمر لري. د د Vaxzevria® AstraZeneca سره واکسین کول له همدې امله د 60 کلونو یا ډیر عمر لرونکو اشخاصو لپاره وړاندیز کیږي. دا واکسین د دې عمر په ډله کې هم ښه اغیزمنتیا لري.

د STIKO سپارښتنې سره سم، د Vaxzevria® AstraZeneca سره واکسین کول لاهم د 60 کلونو څخه کم عمر خلکو کې امکان لري که چیرې دوی دا پریکړه د خپل ډاکټر سره یوځای وکړي.

د لومړي واکسین څخه وروسته د Vaxzevria® AstraZeneca سره دوهم واکسین: د 60 کالو او ډیر عمر لرونکو اشخاصو لپاره چې د د Vaxzevria® AstraZeneca سره په لومړي ځل واکسین شول، دا سپارښتنه کیږي چې دوی د آسترازینیکا واکسزویریا سره په دوهم ځل هم واکسین شي.

د 60 کالو څخه کم عمر لرونکو اشخاصو لپاره چې دمخه یې د Vaxzevria® AstraZeneca سره واکسین شوي، STIKO اوس مهال وړاندیز کوي چې دوېم واکسین د mRNA واکیسن (د BioNTech/Pfizer Comirnaty® او د Moderna® COVID-19 واکیسن) سره د لومړي واکسین څخه 12 اونۍ وروسته ترسره شي.

څوک چې د (5,38 درجه سانتي ګرېد او لوړې) تبې سره کومه حاد ناروغي ولري، باید یوازې د ښه کیدو نه وروسته واکسین شي. سره لدې، ساړه یا یوځه لوړ حرارت درجه (د 5,38 نه ټیټ درجه سانتي ګریډ) د واکسین ځنډولو لپاره دلیل ندی. څوک چې د واکسین د اجزاو په وړاندې لوړ حساسیت لرئ، باید واکسین نشئ: که حساسیت لرئ، مهرباني وکړئ د واکسین نه مخکې واکسین کونکي ډاکټر ته خبر ورکړئ. هر هغه څوک چې د لومړي واکسین کولو وروسته سمدستي حساسیتي غبرګون ولري (anaphylaxis) باید دوهم واکسین ترلاسه نکړي.

هغه افراد چې د ایمیونو کمې نه لري، چې په نوي کرونا ویروس کې اخته کېدل یې مخکې تایید شوي و، د رغیدو یا له تشخیص څخه وروسته واکسین کیدې شي (خو د 6 میاشتو څخه مخکې نه) او باید یوازې د واکسینو یو خوراک ترلاسه کړي. په اوس وخت کې، دا نشي ویل کیدې چې ایا د دې اشخاصو لپاره دویم خوراک لازمي دی یا نه. هغه کسان، چې په کومو کې د لومړي واکسین کولو وروسته انتان مثبت ثابت شوی و، د STIKO سپارښتنې سره سم د انتان څخه وروسته (خو د 6 میاشتو څخه مخکې نه) د واکسینو دویم خوراک ترلاسه کولی شي. داسې هیڅ شواهد شتون نلري چې واکسین د هغه چا لپاره خطر ولري چې مخکې په ویروس اخته شوی وی، پدی خاطر هیڅ اړتیا نشته چې د واکسین کولو دمخه دا موضوع رد شي.

د امیندوارۍ او شیدې ورکولو په بهیر کې د COVID-19 ویکتور واکسینو کارولو په اړه کافي تجربه شتون نلري.

STIKO اوس مهال د هرډول واکسین سره سره د امیندوارۍ پرمهال د عمومي واکسین سپارښتنه نه کوي. په انفرادي مواردو کې، امیندواره میرمنې چې مزمن ناروغی لري چې د COVID-19 جدي مرحلې ناروغی لپاره لوړ خطر لري ممکن د خطر او ګټو ارزونې او مفصل مشورې وروسته د واکسین سپارښتنه وشي.

STIKO دا ډیره ناشونې ګڼي چې د مور د شیدې ورکولو پرمهال د مور واکسین کول ماشوم ته خطر لري.

د واکسین کولو دمخه، مهرباني وکړئ خپل ډاکټر ته خبر ورکړئ که چیرې تاسو د وینې لخته کیدو اختلال ولرئ یا د وینې د لخته کیدو ضد درمل اخلئ. تاسو کولی شئ د ساده احتیاطي تدابیرو سره واکسین شئ. د ضعیف معافیت لرونکي خلکو لپاره هیڅ مورد د واکسین مخنیوی نشي کولی. په هرصورت، واکسین ممکن په داسې خلکو کې هغومره اغیزناک نه وي.

مهرباني وکړئ د واکسین کولو دمخه ډاکټر ته هم وواياست که چیرې تاسو په تیر وخت کې له واکسین کولو وروسته حساسیت ولرئ یا تاسو حساسیت درلودلو. ډاکټر به تاسو ته وضاحت وکړي چې ایا د واکسین نه کولو لپاره څه دلیل شتون لري.

**د واکسین نه مخکې او وروسته باید څه کار وکړئ؟**

که چیرې د مخکیني واکسین یا بل تزریق نه وروسته بې تاسو هوښه شئ یا سمدستي حساسیت پیدا کړئ، مهرباني وکړئ د واکسین کولو نه مخکې واکسین کونکي ډاکټر ته د ارتیا سره سم خبر ورکړئ. وروسته بیا هغه کولی شي د واکسین نه وروسته تاسي ښه د پام لاندې ونیسي.

د نورو واکسینونو نه باید لږترلږه 14 ورځې واټن ولري.

د واکسین نه وروسته، اړتیا نشته چې استراحت یا آرام وکړئ.

د واکسین نه وروسته د درد یا تبې پیدا کیدو په صورت کې ("د واکسین کولو نه وروسته د واکسین کوم ممکن غبرګونونه پیښیدی شي؟" وګورئ)، د درد ارامونکي/د تبې کمونکي درمل وخورئ. د کورنۍ ډاکټر مو کولی شي پدې لړ کې تاسې ته مشوره درکړي.

ژر تر ژره روغتیایي پاملرنه ترلاسه کړئ که چیرې، د واکسین کولو وروسته، تاسو د ساه لنډۍ، د سینې درد، د پښو پړسوب یا د خیټې دوامداره دردونه رامنځته کړئ.

تاسو باید سمدستي له یو ډاکټر سره وګورئ که تاسو د واکسین کولو څخه وروسته شدید یا دوامداره سر درد یا تیاره لید ولرئ، یا که تاسو ځو ورځې وروسته د پیچکارۍ د ځای څخه بهر ټپونه یا سور داغونه رامنځته کړئ.

**د واکسین کولو وروسته د واکسین کوم ممکن غبرګونونه پیښیدی شي؟**

د COVID-19 ویکتور واکسین سره د واکسین کیدو نه وروسته، کیدی شي لنډ مهاله او عارضي موضعي او عمومي غبرګونونه د واکسین سره د بدن د شخړې څرګندیدل یې. په دې غبرګونونو کې تبه، ساړه، او د فلو په څیر نورې نښې شامل دي. دوی معمولاً د واکسین کولو څخه وروسته په څو ورځو کې کمیږي. د احتمالي نښو کمولو لپاره، انالجیسیک/ انټیپیریټیک درمل په وړاندیز شوي خوراک کې کارول کیدی شي.

**د Vaxzevria® AstraZeneca :** د واکسین ډیر راپور شوي غبرګونونه د تصویب په مطالعو کې د پیچکارۍ په ځای کې شینوالی (له 60 سلني څخه ډیر)، د پیچکارۍ په ځای کې درد، سر درد او ستړیا (له 50 سلني څخه ډیر)، د عضلاتو درد او تکلیف (له 40 سلني څخه ډیر)، لوړ تودوخې او لړزه (له 30 سلني څخه ډیر)، د ملا درد او بی حالي (له 20 سلني څخه ډیر). په مکرر ډول (د 1٪ او 10٪ ترمنځ)، د زړه بدتیا، اسهال، پیچکارۍ په ځای کې سور والی او پړسوب رپوټ ورکړل شوی. ځینې وختونه (د 0.1 او 1 تر مینځ)، د لمفاوي عضلاتو پړسوب، د اشتها کمیدل، ګرنګتیا، خوب وړل، د خولې ډیریدل، خارش او عمومي تخریش.

**د COVID-19 لپاره د Johnson & Johnson Janssen® واکسین**: د تصویب په مطالعو کې ترټولو عام راپور شوي د واکسین عکس العملونه د انجیکشن په ځای کې درد (د 40٪ څخه ډیر)، د سر درد، ستړیا او د عضلاتو درد (د 30٪ څخه ډیر) او قې (د 10٪ څخه ډیر) دي. په مکرر ډول (د 1٪ او 10٪ ترمینځ)، تبه، ټوخی، د جوړونو درد، او د لړزیدلو سره د انجیکشن په ځای کې سوروالی او پړسوب راپور شوي ول. ځینې وختونه (د 0.1٪ او 1٪ تر مینځ)، لړزیدل، پرنجېدل، د خولی او د ستوني درد، عمومي خاربښ، د خولې ډیریدل، د عضلاتو کمزورتیا، په مټ یا پښه کې درد، د ملا درد، د عمومي کمزورتیا احساس او ناراحتي واقع کیږي.

په زړو اشخاصو کې د ځوانانو په پرتله غبرګونونه لږ ځله لیدل کیږي. د واکسین غبرګونونه اکثرا نرم او معتدل دي او د **د** Vaxzevria® AstraZeneca سره د لومړي واکسین کیدو په پرتله د دوهم واکسین وروسته یو څه لږ ځله پیښیږي.

**آیا د واکسین عوارض امکان لري؟**

د واکسین له امله عوارض د واکسین اغیزې دي چې د واکسین د عمومي غبرګون څخه زیات دي، کوم چې په پراخه کچه د واکسین شوي شخص د روغتیا حالت اغیزه کوي.

**د Vaxzevria® AstraZeneca:** د واکسین د معرفي کیدو راهیسې، د وینې ټوټې کیدل (thrombosis) چې د پلیټلیټ د شمیر د کمي سره تړاو لري (thrombocytopenia) او ځینې وختونه د وینې د ضایع کیدو سره مل وي، د AstraZeneca Vaxzevria® سره د واکسین کولو وروسته په خورا لږو پیښو کې لیدل شوي دي. پدې کې هغه ځینې جدي قضیې شاملې وې چې په مختلفو یا غیر معمولي موقعیتونو کې (د بیلګې په توګه د دماغي رګونو sinus thromboses یا د معدې غار کې د mesenteric vein thrombosis په توګه) یې د وینې ټوټې درلودې، حتې په ټول بدن کې د وینې د ټوټو جوړولو زیات فعالیت یا د وینې تویدلو سره. دا زیاتره قضیې د واکسین کولو څخه وروسته د څلورو څخه تر 16 پورې ورځو په منځ کې پیښې شوې او په عمده ډول د 55 کلونو څخه لږ عمر لرونکي کسانو کې. ځینې بیان شوې قضیې مرګوني وې یا د دایمي زیان سره پای ته ورسیدې.

**د COVID-19 لپاره د Johnson & Johnson د Janssen® واکسین**: په نادره مواردو کې (له 0.01٪ څخه تر 0.1٪ پورې) ، د حساسیت عکس العملونه او د پوټکي اختلال واقع شول.

د واکسین معرفي کولو وروسته، سمدستي د الرجی غبرګونونه (anaphylactic reactions) په خورا نادره پیښو کې راپور شوي وو. دوی د واکسین کولو څخه لږ وروسته پیښ شول او طبي درملنې ته یې اړتیا لرله.

د ټولو واکسینو په څیر، په ډیری نادره قضیو کې د ژر ترژره حساسیتي غبرګون او د شاک یا نورو پخوانیو نامعلوم پیچلتیاو په شمول په قعطي ډول نشي منع کیدلی.

که چیرې د واکسین کیدو نه وروسته داسې علامې څرګندې شي چې د لنډمهاله ځایی او پورته ذکر شوي عمومي غبرګونونو نه ورهاخوا یې، نو د کورنی ډاکټر به د مشورې لپاره هرو مرو ستاسې لپاره موجود یېد شدید اغیزو د ښکاره کیدو په صورت کې، په ځانګړي توګه ساه لنډې، د سینې درد، د پښو پړسوب یا د خیټې دوامداره درد، شدید یا دوامداره سر درد یا د لید عوارض، یا که تاسو د واکسین کولو څخه څو ورځې وروسته د انجیکشن د ځای څخه بهر د پوټکي زخم یا د وینې جریان تجربه کړئ، نو مهرباني وکړئ ژر تر ژره د طبي پاملرنې غوښتنه وکړئ. همدارنګه کلی شئ د خپلو جانبي عوارضو رپوټ ورکړئ: https://nebenwirkungen.bund.de

**د دې معلوماتو پاڼې نه علاوه، ستاسې واکسین کونکی ډاکټر تاسې ته یو معلوماتي بحث هم وړاندې کوي.**

توضیح:

______________________________ ______________________________

د ډاکټر لاسلیک د واکسین کیدونکي شخص لاسلیک

یا که چیرې واکسین کیدونکي شخص د رضایت چمتو کولو وړ نه وي:

د قانوني استازي لاسلیک

(ساتونکی، د قانوني پاملرنې چمتو کونکی یا سرپرست

د پال ایحلیچ انستیټیوټ (PEI) اوسمهال د ګرځنده ځیرک تلیفون SafeVac 2.0 اپلیکیشن په کارولو سره د نوي کرونا ویروس (SARS-CoV-2) پروړاندې د محافظت لپاره د واکسینونو د تحمل یا زغملو په اړه یوه توليپوښتنه ترسره کوي. تاسو کولی شئ د واکسین کولو وروسته 48 ساعتونو کې راجستر شئ. توليپوښتنه داوطلبانه ده.

Google Play App Store App Store Apple

د COVID-19 په اړه او د COVID-19 واکسینونو په اړه نور معلومات په لاندې ویب سایټونو کې موندلی شئ:

www.corona-schutzimpfung.de
www.infektionsschutz.de
www.rki.de/covid-19-impfen
www.pei.de/coronavirus

د اول چاپ 004 نسخه (نیټه 2021 اپریل 1)

دا معلومات پاڼه د دیوس ګرونس کریوز ای وي، ماربرګ او د رابرټ کوچ انستیټیوټ، برلین په همکارۍ چمتو شوی، او د چاپ حق یې خوندي دی. دا پاڼه کیدای شي چې یوازې د دې مقصد په محدوده کې دننه د غیر سوداګریزو کارولو لپاره بیا تولید او یا واستول شي. هرډول تصحیح او تغییر پدې پاڼه کې منع دی.

in Kooperation mit

ROBERT KOCH INSTITUT

د ویکتور واکسین سره - د COVID-19 (د کرونا ویروس ناروغی 2019) پروړاندې د واکسینونو په تړاو طبي مخینه_________ (Vaxzevria®) چې مخکې د COVID-19 لپاره د AstraZeneca واکسین او د Johnson & Johnson د Janssen® واکسین په نامه پیژندل کیده)

**1. آیا اوسمهال د تبې سره کوم حاد ناروغي لرئ؟**

0 هو 0 نه

**2. ایا تاسو دمخه د COVID-19 پر ضد واکسین ترلاسه کړی دی؟**

0 هو 0 نه

د مثبت ځواب په صورت کې، نو کله او کوم واکسین تاسو ترلاسه کړی دی؟ نیټه: واکسین:

(مهرباني وکړئ د واکسین لپاره د لیدلو په وخت د واکسین کارت یا د واکسین کولو نور ثبوت راوړئ.)

**3. په هغه حالت کې چې تاسو یې دمخه د COVID-19 لومړی واکسین ډوز ترلاسه کړی دی: ایا تاسو وروسته حساسیتي غبرګون پیدا کړی؟**

0 هو 0 نه

**4 ایا دا په معتبره توګه ثابت شوی چې تاسو په تیرو وختونو کې په نوي کورونا ویروس (SARS-CoV-2) اخته شوی یاست؟**
(د SARS-CoV-2 سره د انتان وروسته، واکسین د بنه کیدو یا تشخیص څخه وروسته د 6 میاشتو څخه مخکې نه وړاندیز کیږي.)

0 هو 0 نه

د مثبت ځواب په صورت کې، نو کله؟

**5. ایا تاسو د یوه حاده ناروغي لرئ یا د معافیت ضد ناروغی څخه رنځ وړئ (د بیلګې په توګه د کیموتراپي، معافیت درملنې یا نورو درملو له امله)؟**

0 هو 0 نه

د مثبت ځواب په صورت کې، کوم ډول

**6. آیا تاسې د ویني د کلکیدو اختلال لرئ یا د ویني نروبونکي درمل خورئ؟**

0 هو 0 نه

**7.آیا تاسې* پیژندل شوې حساسیت لرئ؟**

0 هو 0 نه

د مثبت ځواب په صورت کې، کوم ډول

**8. آیا* د مخکیني مختلف واکسین وروسته مو د حساسیت، لوړې تبې، بې هوشئ، یا نورو غیر معمول غبرګونونو علامې درلودلې؟**

0 هو 0 نه

د مثبت ځواب په صورت کې، کوم ډول

**9. په ښځو کې د بلاربتوب (امیندوارۍ) عمرونو کې: آیا اوسمهال بلاربه یې یا ماشوم ته شیدې ورکوې؟**

0 هو 0 نه

**10. آیا په تیرو 14 ورځو کې واکسین شوی یې؟________________________**

0 هو 0 نه

*[1] د امکان په صورت کې، دا په د قانوني استازي لخوا ځواب ورکول کیږي

# د COVID-19 پروړاندې د مخنيوي واکسين لپاره د رضايت اعلاميه

د ويکتور واکسين سره - (Vaxzevria® چې مخکې د COVID-19 لپاره د AstraZeneca واکسين او د Johnson & Johnson د Janssen® واکسين په نامه پيژندل کيده)

د واکسين کيدو لپاره د شخص نوم (وروستي نوم، لومړی نوم):

د زيږون نيټه:
پته:

که چيرې هغه کس چې واکسين شي د رضايت چمتو کولو وړ نه وي، نو د واکسين کولو رضايت يا د واکسين کولو څخه انکار کول به د قانوني استازي لخوا ورکړل شي. په داسي صورت کې، مهرباني وکړئ د قانوني استازي نوم او د اړيکي توضيحات هم وړاندې کړئ:

وروستي نوم، لومړی نوم:
د تليفون شميره: بريښناليک:

ما په معلومات پاڼه کې مينځپانګې په پام کې نيولې دي او ما د دې فرصت درلودلو چې د خپل مسلکي ډاکټر سره مفصل بحث وکړم کوم چې به واکسين ورکوي.

- o زه نور کومه پوښتنه نلرم.
- o زه د COVID-19 پروړاندې د ويکتور واکسين سره وړانديز شوی واکسين ته رضايت ورکوم.
- o زه د واکسين څخه انکار کوم.
- o زه په ښکاره ډول د طبي وضاحت بحث ردوم.

تبصرې:

ځای، نيټه:

د واکسين د ترلاسه کولو لپاره د شخص لاسليک: د ډاکټر لاسليک
يا که چيرې هغه څوک چې واکسين شي د رضايت د وړاندې کولو وړ نه وي.

د قانوني استازی لاسليک ( سرپرست، د قانوني پاملرنې چمتو کوونکی يا ساتونکی)

دا طبي مخينه او رضايت فورمه د Deutsches Grünes Kreuz e.V., Marburg او د د رابرټ کوچ انستيټيوټ، برلين په همکاری چمتو شوي او د چاپ حق يې خوندي دی. دا يوازې د دې د مقصد په ساحه کې دننه د غير سوداګريزو کارولو لپاره بيا توليد او ويشل کيدې شي. هرډول ترميم او بدلون منع دی.

خپرونکی: ډيوس ګرونس کريوز اي وي، ماربرګ
د رابرټ کوچ انستيټيوټ، برلين سره په همکاری

چاپ 001 نسخه 002 (2021 اپريل 1 پورې)